مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۱۰/۲۷

# ډنمارکی اِتنوګراف،

## کلاوس ویلهیلم فردیناند

## Klaus vilhelm Ferdinand

## Dansk etnograf

### دویمه او وروستۍ برخه



کلاوس د افغانستان په نورستان کې د خپل لومړني ماموريت په اوږدو کې

### اوس د کلاوس په باب د شپون خاطرات:

کلاوس فردیناند سره د شپون کار او آشنايي، که له يوې خوا له کلاوس سره مرسته وه او ډير څه يې ورته روښانه کول؛ نو تر څنګه يې شپون ته هم ډيرې ګټې ور په برخه کړې، ان دا چې شپون په خپلو يادداشتونو کې ليکلي دي چې ښځه مې هم د ده له برکته کړې ده. شپون دا کيسه په خپل «و، نه و، يوشپون و» کې په ډير خواږه نثر داسې انځور کړې ده:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«... د همدې کلاوس له برکته مې خپله راتلونکې ماندینه (کوروالا یا ښځه) هم ولیده، چې لکه سره بیزو لره بره کېده. دا زما د ترور لور وه او دوی په سره رود کې اوسېدل. زما (راتلونکی) سخر د جبارخیلو خان و، چې زه او کلاوس ورغلو ډېره ښه شپه یې راکړه. په سهار، کلاوس د ده د باغیچې په لسګونو چرګانو ته کتل چې د ټغره نه چارچاپیره په مچانو ټونګې وهي او زمور سباناری هم ترې په امان نه و، نو یې د خان صیب نه پوښتنه وکړه چې تاسو خپلو چرګانو ته څه خوراک ورکوئ، چې بیګاه شپه یې ښوروا دومره خوند کاوه. د ډنمارک چرګان، هسې هو په ظاهره ځاربه او ښوی دي، خو غوښه یې داسې بیخونده لګیږي لکه هسې کاغذ چې خوري. خان صاحب ته مې د ده بیان ترجمه کړ. هغه ډېر خوږ ځواب ورکړ، چې د کلاوس سر تر ډېره وخته نه پر خلاصیده. وې ویل چې زمور چرګان بس درسته ورځ په ډیرانونو ګرځي او... خوري. کلاوس یې تر اوسه هم یادوي.»

(شپون سعدالدین، و، نه و، یو شپون و، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵م کالونه، ۸۷ مخ)

شپون ته د کلاوس د اشنایي او کار بله ګټه دا وه چې د خپل وطن ډېرې نالیدلې سیمې یې ولیدلې او د خلکو دود دستور سره له نږدې اشنا شو:

«... یو بل ارمان چې تل یې تخنولم او په پوهنتون کې پوره شو، دا و چې د افغانستان ځینې برخې چې یوازې مې په نقشه کې لیدلې، د یو تصادف له برکته یې لیدل راته ممکن شول. لکه د هزاره و بهسود، شهرستان، غورات، چخانسور، د بولان دره، بکتیا، د کوچیانو آبول او ګوماو بازارونه او نور هغه ځایونه، چې کوچیان ورکې تم کېدل او یا ترې تېرېدل. دا موقع تر زیاتي اندازې د ډنمارکي انتروپولوجست، کلاوس فردیناند په برکت برابره شوه. چې زه ورسره د ترجمان په توګه په سفرونو تللم. دې سفرونو زما هم د کوچیاني ژوند، بدلو او دود و دستور سره مینه پیدا کړه او په ناخبری کې رانه، په وچه د کوچیانو متخصص هم جوړ شو. د هغوی قامونه، پښې، د کالني کوچ لارې، د اوړي میله ځایونه، د هزاروو سره راکړه ورکړه او دښمنې دا ټول مې هم کلاوس ته ترجمه کول او هم مې خپله یادداشتونه اخیستل...»

(شپون سعدالدین، و، نه و، یو شپون و، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵م کالونه، ۸۶ ــ ۸۷ مخونه)

ما پخوا هم دا لیکلي وو چې له افغانستان نه د شپون صاحب د وتلو په اړوند د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې د شپون اقتصادي او سیاسي حالت د دې جوګه نه و چې دی دې مخامخ امریکا ته لاړ شي. د ده په لیکنو، په تیره «و، نه و، یو شپون و» کې د راغلو اسنادو او کیسو په استناد، شپون د ډنمارکي انتروپولوجست کلاوس فردیناند ( Klaus Ferdinand) په مرسته ــ چې دی یې د نجات فرشته بولي او شپون په افغانستان کې ور سره د کار اوږده مخینه لرله ــ له پیښور نه ډنمارک ته راغلی و او بیا له ډنمارک څخه، له خپلې کورنۍ سره امریکا ته کډه شوی دی. د بریښنا د سختو ټکانونو او پر مځکه لګیدو په وجه یې د پښو ګوتې له څېلکو سره یو ځای سوځیدلې او د کوما په حالت کې تر روغتون پورې رسیدلی دی، بیا کورته راوړل شوی، په بد حالت حیران پروت، چې کلاوس ورباندې ورپېښ شوی دی.

شپون دا جریان په «و، نه و، یو شپون و» کې داسې لیکلی دی:

«... بس بیخوده پریوتلم. زه خبر نه وم چې پښو مې د څپلکو سره اور اخیستی و. زموږ کور ته مخامخ د پاکستان د یو پیلوټ کور و، چې زما د بچیانو په شورماشور خبر شو، په منډه راغی. هغه د بامه په اوږه کوز چمن ته وړی وم، چې یې کتلي چې زه سا نه کاږم نو یې مصنوعي خوله په خوله سا راکې غړولي وه، چې بیرته مې سا راښکل چالان شوي دي. هغه هم د پیښور هسپتال ته چلولی وم. درې ساعته بې خوده وم، چې سترګې مې پرانستې، ګورم چې کورنۍ او دوستان ډله چارچاپیره ولاړ دي. اوله پوښتنه مې دا وه چې دا کوم ځای دی؟ بیا مې چې د سپینو جامو ډاکتران ولیدل، نو ومې ویل اوس پوهیږم چې په هسپتال کې یم، خو بس دا یوه پوښتنه راته ځواب کړئ او هغه دا چې ولې دلته یم؟ کور والا راته کیسه تیره کره، ایله مې سر خلاص شو.

په ځای کیناسم، خو خوا مې را هسکېده. ډیر وروسته یې چې کور ته راوستم، نو مې پام شو چې د ښی پښې ګوتې مې ورتې غوښې او غټه ګوته مې سوی سکور و.

دوه میاشتې په ځای پروت وم او دربدری او پیسو نشتوالي نه نیولی، تر بې وطنی او ناروغی پورې له هرې خوا راباندې هجوم و. بیا د پلار خبره سترګو ته راته ودریده، چې ویل به یې بچیه چې سخته درباندې راغله، نو د ځانه سره دا ګردانوه، چې صورته! تیره شه! ما ویل چې صورت به مې تیره شي، خو د زړه سره څه وکړم، د بچیانو د وږو نسونو سره څه وکړم؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## د نجات پربنته:

یوه ورځ د پېښور په غرمو کې په کټ پروت وم او په چاورۍ مې د ځانه مچان شړل چې چا ور وټکاوه. زوی مې ورغی او وارخطا بیرته راغی، ویل یې یو سور ږیری شین سترګی په انګریزي ستا نوم یادوي. دا وخت نو زما بچیانو په سکول کې یو څه انګریزي یاده کړې وه. ما وویل، ښځینه و ته وایه چې یوې خوا ته شي، بس رایې وله، چې راغی نو ګورم چې زوړ یار ډنمارکی کلاوس فردیناند دی. کټ ته مې ودرید او زما د حال پوښتنه یې وکړه. ما ویل ته خو کښینه زوروره. پس له چایو او ډوډۍ مې وپوښته، چې څنګه راپیښ شوی یې؟ هغه وویل چې زما اکاخیل کوچیان همدلته چیرته پراته دي، د هغو احوال اخستلو د پاره راغلم او هم مې په کونړ کې د یوې پروژې د پاره بودجه راوړې، چې هغه سررشته کړم. خپله کیسه یې راته تیره کړه، چې د کوچیانو د مشر کاکا زوی سرور خان د لوګر د ازرې نه د چا په لاس احوال را استولی چې که په پېښور راپېښ شوې، یو ځلي زموږ ګیـږدیو ته هم سر راښکاره کړه.

کلاوس ویل چې په ډینز هوټل کې مې اړولي، ستا پته مې د مجروح نه واخیسته، راغلم چې دواړه سرور خان ته ورشو، نو اوس ګورم چې ته پروت یې، څه خبره ده؟

ما ورته د کاکړو د خان کیسه چې دواړو تل یادوله تکرار کړه، چې چا ترې پوښتنه کړې وه، چې څه ناروغي لرې؟ هغه ویلي وو: «چې درو عزیزانو ګوته پرې کېښوده» دواړه وخندل. بیا مې د پرې شوې ګوتې کیسه ورته وکړه او ومې ویل، چې سرور خان ته خو به که نور نه وي، په لکړه درسره لاړ شم.
په بله ورځ کلاوس د ډنـز نه راغی، موټر یې راوستی و. په لکړه وروختم او لاړو. په پوښتنو مو د کوچیانو کمپ صحیح کړ. د کچه کړۍ د یوې غونډۍ پورې لس دولس کیـږدۍ لکې وې.

هلاله، شوه، لکه چې ټولو د دیرشو کالو یار، کلاوس پیـژانده. چا د سرور خان کیـږدۍ ته بوتلو، سرور خان هم زما په شان ناسازه وو، لکړه یې لګوله بهر راووت او د کلاوس سره تر غاړې ووت. بیا نو تر ماښامه مرکې، ټوکې ټکالې او د پخوا وختونو کیسې وې. د سرور خان یوه خبره مې هر، هر ځای کړې او هیڅ به مې هېره نه شي چې کلاوس ورته وویل، ته خو اوس په حزب اسلامي کې یې، اتلس کسه مو قرباني ورکړې، نو که روسان ووتل او قدرت ستاسو شو نو باید چې غټ منصب درکړي، د کوچیانوریئس به شې که څنګه؟

سرور خان په خندا وویل کلاوشه (هغوی به کلاوس ته کلاوش ویل) ماموریت ګناه ده ځکه چې په هغې کې رشوت، حق تلفي او خنایت (خیانت) خامخا راځي، دا کار نه کوم، چې جهاد ختم شو نو په ازره کې د یوې غونډۍ پورې کیـږدۍ لګوم، یو تره خولی سپی به رانه تاو راتاو کیـږي، یو څو میـږې به مې شپاله کې بغیـږي، په بیغمه زړه به د اوس په شان خپل قاچاق کوم!

کلاوس د ورځې د غیر حکومتي موسسو یا انجیوګانو سره بوخت و، شپه یې په ما راوړه. یو ماښام یې راته وویل، چې راځه د ډنمارک د خیریه مؤسسې رئیس شه، چې هم دې ګوزاره وشي او هم پام پرې غلط کړې. ما وویل د هغې په ځای ولې د سرور خان سره قاچاق نه کوم؟ زه د دوو خرو وربشې سره بیلولی نه شم، نه مې رشوت اخیستی او نه مې ورکړی دی. اوس مې د تنظیمونو او کونړیانو په بلا مه اخته کوه. څو ورځې ورک و، لکه چې څوک افغان یې ورته پیدا کړی و، یا به یې د پخوا نه په نظر کې وو.

یو سهار د خدای پامانۍ د پاره راغی. پس د سباناري یې وویل، ولې نه راځې چې د کوپن هاګن پوهنتون کې د کلتوري انتروپولوژۍ په څانګه کې څیړنه او تدریس وکړې. هم به درته تبدیل هوا (د ځای بدلون) شي، پام به دې په بله شي او هم به ستا نه یو څه ګټه واخلو. ما وویل ماشومان به څنګه شي؟ هغه وویل ته یو ځلې راشه، که دې کار خوښ شو، هغوی به راوغواړو.

کلاوس لاړ او یوه میاشت پس یې یو موقتي پاسپورت او یو تکټ راواستاوه. بس لاړم. دوه میاشتې پس بېرته پیښور ته ستون شوم او د میرمنې سره مې مشوره وکړه، هغې وویل بې هغې هم مهاجر یو، نه مو پېښور خپل وطن دی، د بابا کور به مو وي خو اوس رانه پردی دی او نه د دنیا بل ځای، بس ستا خوښه.
هم مې زړه کیده هم ساړه. د پیښور نه که نور څه نه و د وطن بوی خو راته، خو چې به مې د تنظیمونو ناخوالې په زړه کړې، نو وبه بوګنیدم. د مجروح خبره راته نیغه، نیغه کېده چې «موږ په دې چاپیریال کې ډیناساران یو، نه تیرې داړې لرو نه ځغاسته کولای شو، پښې مو نرۍ دي، جوڅه مو ستره، نو ډیر ژر به له منځه لاړ شو»
د دوستانو نه مې چې رخصت اخیسته، نو ویل مې چې کورنۍ خوندي کوم او زه بیرته راځم. مجروح راته ویل «ښه به بیرته راشې!»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

(شپون سعدالدين، و، نه و، يو شپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵م کالونه، ۲۱۰ـ ۲۱۱ـ ۲۱۲ـ ۲۱۳ـ ۲۱۴ـ ۲۱۵ مخونه)

د ډنمارکي کلاوس په مرسته شپون له خپلې کورنۍ سره د پېښور له جنجالونو را خلاص او ډنمارک ته را رسيږي. د همدې خوږې کيسې په ترڅ کې شپون صاحب له صمد حامد سره د ليدو يادونه هم کوي، په دې ډول:

«... په ډنمارک کې يو ځلې ډاکتر صمد حامد هم راغی، څو شپې مې د ده د فضيلت نه برخه يوړه. حتی د کوپن هاګن د پوهنتون استادانو او کلاوس هم د حامد د پوهې او درايت ستاينه کوله...»

(شپون سعدالدين، و، نه و، يو شپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵ ام کالونه، ۲۱۸ ام مخ)

دغسې چې د کلاوس فرديناند او شپون ليدنه او کار د يو تصادف له مخې شوی و، له کلاوس سره زما (د دې کرښو ليکوال) اشنايي هم د يو تصادف له مخې وشو، کيسه يې داسې وه:

شپون صاحب کله، کله په خپلو يادداشتونو کې داسې ټکو ته اشاره کوي چې د لوستونکو او څېړونکو، د څو کلونو يا څو ورځو يا څو ساعتونو خواري ـ چې بايد په يوه مطلب پسې يې وکړي ـ په يوه پروګراف يا يوه جمله کې رالنډوي او ورته يې په مخکې ږدي؛ لکه د کلاوس فرديناند په باب د ده يادونې.

ما (آصف بهاند) په دوه زره شپږم (۲۰۰۶ ام) کال کې د شپون «و، نه و، يوشپون و» تر لاسه کړ، په ډېر دقت سره مې ولوست او، څو ځايه مې د ډنمارکي کلاوس فرديناند نوم له نظره تير شو، چې کلاوس د افغانستان په باب او په تيره د پښتنو کوچيانو د ژوند او دودونو په باب څومره کار کړی دی، څومره يې له دوی سره مينه درلوده او څومره يې په خواريو او د زحمتونو په ګاللو سره ځان په لرو پرتو سيمو کې د دوی تر مېنو پورې رساوه او د دوی له کلتور او ژوند پيښنو نه يې ځان خبراوه.

کله چې د شپون صاحب په «و، نه و، يوشپون و» کې د کلاوس له نامه سره مخ شوم، نو په افغانستان کې، په تيره له پښتنو کوچيانو سره د کلاوس د کار په باب او د ده د ژوند د حالاتو په باب زما تلوسه زياته شوه. په همدې وخت کې مې د کلاوس په باب د معلوماتو د تر لاسه کولو په پار، په ډنمارک کې د خپل کار د مشر، توربين ينسن مرسته وغوښته او داسې مې په زړه کې غوټه کړې وه چې دا خو به تقريباً د شپون همځولی وي، نو به په اغلب ګومان چې ژوندی وي او زه به له نږدې ورسره ګورم، خبرې به ورسره کوم او په افغانستان کې به د ده د کارونو په باب پوښتنې ځنې کوم؛ خو څو شيبې وروسته چې د دمې له پاره بيرته راستون شوم، د کار مشر توربين ينسن را ته غږ کړل او وې ويل:

«آصفه! په خواشينی سره چې کلاوس نور نه شته، هغه په دوه زره پنځم (۲۰۰۵ ام) کال وفات شوی دی»
بيا مې د يو څه مودې له پاره د کلاوس په باب د څه ليکلو فکر له سره ويست، خو په «تاند» کې بيا هم شپون صاحب د خپلو جالبو ليکنو په لړ کې د ۲۰۱۴ کال د مارچ په نهمه (۹مه) نيټه يوه په زړه پورې ليکنه خپره کړه چې په هغه کې هم د کلاوس او افغانستان ته د کلاوس د ډنمارکي شاګردانو د راتګ د علمي سفر کيسه راغلې وه. د شپون صاحب په ليکنه کې د کلاوس او د هغه د شاګردانو په باب داسې راغلي دي:

«لا د ثور کودتا نه وه شوې، زما خيال دی را روا نه وه، چې يوه ډله نجونې له ډنمارک نه کابل ته راغلې. د کوپنهاګن پوهنتون محصلانې وې، فيلډريسرچ يې کاوه، انتروپولوجست، کلاوس فرديناند چې لسيزې يې له کوچيانو سره تير کړې وراوستې وې. زه او اشرف غني د کلاوس د پخوا وختو ياران وو چې د پوهنتون دوره کې مو په ريسرچ کې همکاري، کله لا ترجما نې ورسره کوله. نو چې د لا و لبنکر سره راغی موږ هم ورسره د افغانستان په کلو باندې ګرځېدو. دا مهال نو موږ استادان وو. اشرف لکه چې لا ډاکټري نه وه اخيستې، رخصتي راغلی و.

پلان دا وو چې د شيبر له زړې لارې، په درې شکاري تر پلخمري بيا په دښتو مزارشريف ته لاړ شو. تنکی پسرلی و. د دښتو شنيلو تازه نيښ وهلی و(پره لکه دا اوس د حوت ورو ستی شپې به وې) د غونډيو په شيلو کې د کوچيانو ليرې خړېدل. چې لنده يې کړم تاشقرغانو ته مو شپه وروړه. درسته شپه په هوټل کې کټملانو د ډنمارکي نجونو په سرو غوښنو ميلې وکړې. په سهار مو د بازار په قيماقچای او شيرمال (په شودو کې اغړل شوې ګردې ډوډی) سبناری وکړ او بيا نو د جنوکيو ريسرچ شروع شو. د دې دوکان د زانګو عکس واخله، په بل دوکان کې د زرکې کرکرې ثبت کړه، د دوکان د اله چو(د کرزي والي چپني تان)، او د سماوار چې د چلم او سرخانې او چارخانې عکسونه واخله، د مشهور سندرغاړي، بنګيچه استاد او يوسف دمبوره چې عکسونه واخله، غږونه يې ثبت کړه. د تاشقرغان بازار ته هغه وخت ګرم ويل کېده. ګرم بازار هغه و چې دوکاندار به له کوټې ها خوا خپله د نسوارو ډبلې بل دوکاندار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته ګوزارولی شو، مانا کوڅه به تنګه وه، لکه د کابل شوربازار یا د ننګرهار د کړې بازار. دا موږ ته عادي خو د کلاوس بنځګله و ته د هالیووډ سینما وه.

ناڅاپه مو یو سړی ولېد چې یو وړوکي، د نه یا لسو کالو ما شوم يي راګیر کړی وو، په مخ يې څاپېړې ورکولې. نورو ورته کتل خو هيچا مداخله نه کوله. د کلاوس شاګردانو چا عکس اخيست او نورو ورته ترې ترې کتل، ژبون يې وهل شوی و. سړی بېدرکه غبّ ښتی و، ځکه به نو چا مدا خله نه کوله...»

ما پخوا لا په نظر کي درلودل او په ليکلي بڼه مې ژمنه کړې وه چې زه به د کلاوس فردیناند د ژوند او په افغانستان کې د ده د کارونو په باب يو څه لیکم او دا دی ایله اوس بریالی شوم چې دا کار وکړم. د شپون صاحب د مړیني په پار ما يوه مفصله مقاله ليکلي وه، هلته ما د دې مقالي د ليکلو ژمنه داسې کړې وه:

«له افغانستان نه د شپون صاحب د وتلو په اړوند دلته د يوې خبرې يادول اړين ګڼم چې د شپون اقتصادي او سياسي حالت د دې جوګه نه و چې دی دې مخامخ امريکا ته لاړ شي. د ده په ليکنو، په تيره «و، نه و، يو شپون و» کې د راغلو اسنادو او کيسو په استناد، شپون د ډنمارکي انتروپولوجست کلاوس فردیناند (Klaus Ferdinand) په مرسته ـ چې دی يې د نجات فرشته بولي چې شپون په افغانستان کې ور سره د کار اوږده او مخينه لرله ـ له پېښور نه ډنمارک ته راغلی و او بیا له ډنمارک نه شپون له خپلې کورنی سره امريکا ته کډه شوی دی.

د شپون او ډنمارکي انتروپولوجست کلاوس فردیناند (Klaus Ferdinand)، چې پښتنو کوچيانو د ژوند او دودونو په باب ډېر کار کړی دی؛ د اړيکو په باب او په تيره د کلاوس د ژوند او په افغانستان کې د هغه د تر سره کړيو کارونو په باب، په نظر کي لرم چې يوه مفصله مقاله ولیکم.»

ما د دې مقالي په ليکلو او خپرولو سره خپله ژمنه پوره کړه او له خپله اړخه مې، تر يوې اندازې هم د شپون صاحب حق ادا کړ او هم مې د ډنمارکي انتروپولوجست او کوچي پېژندونکي کلاوس فردیناند حق پر ځای کړ. اوس لوستونکي کولای شي وګوري چې کلاوس د پښتنو کوچيانو د ژوند او دود و دستور په باب څومره کارونه کړي دي او څومره زحمتونه يې ګاللي دي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ